AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین ۲۰۲۶/۰۳/۳۰

# د افغانستان په هکله د پاکستان دښمنانه پالیسي

## (دويمه‌برخه)

له دې نه هيڅوک سترګې نه شي پټولای چې افراطيت او افراطيت روزنه د پاکستاني جرنيلانو او( ای اس ای) يوه له تولو نه ښه او دوي ته په زړه پوري عايداتي منبع وه. اصلا د پاکستان د ستراتيژي يوه اساسي برخه همدا وه، چې دوي غوښتل په ټوله سيمه کي افراطيت خپور کړي او بيا پاکستان د دغه افراطي ډلو نه د ځان او خپلو بادارانو د اهدافو له پاره ترې استفاده وکړي.

پاکستان له ۱۹۷۰ کال را دې خوا، د مذهبي افراطي ډلو په جوړولو سره په سيمه، افغانستان، هندوستان او حتا د نړۍ په ځينو نورو برخو کې په نا امنيو او ورانکاريو لاس پوري کړ.

د سړې جګړې په ټوله اوږده موده کي پاکستان په مليارډونو ډالر له امريکا، اروپا او عربي نړۍ نه تر لاسه کړل، تر څو د دغو ډلو د روزلو، وسله وال کولو په لار کي ترې استفاده تر سره کړي. د دغو ډلو د روزلو، تجهيزولو په خاطر يې په سلګونو ديني مدرسي په قبايلي سيمو کي جوړې کړې، تر څو په اګاهانه توګه پنجاب له دغو افراطي اغيزو نه لرې وساتي.

په دغو افراطي ډلو کې نه يوازې افغاني تنظيمي ډلي، بلکې د نړۍ د اکثرو هېوادو لکه ازبکستان، تاجکستان، چيچين، چين، عربو او د ځينو نورو هېوادو افراطي ډلو او اشخاصو ګډون درلود.

دا يو حقيقت دی چې په قانونمندو هېوادو کې افراطيت نه روزل کېږي او نه هم فعاليت کولای شي، د دغو ګروپونو د فعاليت له پاره هغه هېوادونه چې قانون نه رعايت کوي ممکن دي، چې ښه بيلګه يې پاکستان کيدای شي او هم د دوي تر کنټرول لاندې قبايلي سيمې.

د پاکستان د ستراتيژۍ په عمق کې ستر ارمان دا و، چې د داود خان د جمهوري نظام له پيل نه يې داسي هلي ځلي پيل کړي، تر څو په افغانستان کي يو داسي وروسته پاتي، مذهبي ډله حاکميت ته ورسوي، چې د هر ډول پرمختګ خنډ وي، د عصري علوموسره مخالفت ولري، معلم و وژني، مکتبونه وسوزوي او لنډه داچې د افغانستان د سياسي استقلال او پرمختګ سره په تضاد کې وي او يو وروسته پاتي افغانستان چې بهرنی سياست او پاليسي يې د پاکستان تر کنټرول لاندې وي رامينځته کړي، تر څو هيڅکله د دې توان او امکانات ونه لري چې د د ديورند د داعيې اواز راپورته کړای شي.

کله چې د داکتر نجيب‌الله د جمهوريت په دننه کې د نظام د دښمنانو او د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام پر ضد د ببرک کارمل د ډلي او شورای نظار سره په ګډه خائنانه کودتا تر سره شوه، په نتيجه کې پاکستان خپل دغه شوم ارمان ته په ډېره اسانۍ سره ورسيد،( سي ای اې )او(اې اس ای) په ګډه دغه هېواد پلورونکي هر يو رباني، حکمتيار، مسعود، سياف او نور د بن لادن او نورو افراطي ډلو تر چتر لاندې داسي ورروزل، چې خپل هېواد افغانستان يې پرې دړې، وړې کړ او دوي يې خپلو موخو ته ورسول.

دغو افراطي خرڅ شوو مشرانو د برهان الدين رباني، احمد شاه مسعود تر رهبري او مشرۍ لاندې، چې خپل هېواد او ولس ورته هيڅ ارزښت نه درلود، يوازې د ځان د قدرت او پرديو د ستراتيژيکو موخو د عملي کولو له پاره تربيه شوي وو، قدرت ته د رسيدو سره سم د پاکستاني مشاورينو تر نظر او مشورو لاندې د هېواد ټول مادي او معنوي ارزښتونه د خاورو سره خاورې کړل، نظام يې وپاشه، وسلهوال پوځ يې ړنګ کړ، هوايي پوځ چې په اسيا کې يې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ساری نه درلود له منځه یوړ، توله ثقیله او خفیفه وسله یې د الوتکو او ټانکونو په شمول پاکستان ته د ډالۍ په توګه وسپارلې.

پاکستاني استخباراتو په دې هم اکتفا ونه کړه د افغانستان د لا بربادۍ په خاطر یې د دغو تنظیمي مشرانو تر مینځ د نفاق اور ته لمن ووهله، کورنیو جګړو په کلو، ښارونو کې زور واخیست، تاریخي کابل په کنډوالو بدل شو، د( ۷۰۰۰۰) په شاوخوا کې کابل اوسیدونکی د دغو کورنیو جګړو قربانیان شول، خو همدغه پاکستان چې د دغو افراطي ډلو د جوړیدو او قدرت ته د رسیدو اصلي لامل و، اوس نو د خیر پر غونډۍ باندې ناست وو تماشا یې کوله او خوند یې ترې اخیسته.

حقیقت خو دا دی چې وایي:

«کوږ بار تر منزله نه رسیږي.»

همدا اوس پاکستان خپله د هغه مذهبي افراطیت سره لاس او ګریوان دی، چې د نورو هیوادونو د ویجاړولو له پاره یې روزلي وو.

هغه متل سم دی چې وایي:

«څه چې کرې، هغه به ربې.»

پاکستان غوښتل چې افغانستان په افراطیانو تباه او برباد کړي چې تر ډېره حده پوري په خپل دغه شوم پلان کې بریالی هم شول، خو اوس داسي ښکاري چې همدا مذهبي ډلې د خپل پخواني بادار پر خلاف وسله را اخیستي او د هرې ورځ په تیریدو سره په سوات، وزیرستان، کراچي، راولپنډۍ او بلوچستان کې پر نظامي تاسیساتوحملې کوي او مرګ ژوبله ور اړوي.

پاکستان اوس د هغه سترو ستونزو سره مخ دی، چې افغانان یې پدې څه د پاسه پنځوس کلونو کې ورسره مخامخ کړي وو.

پښتومتل دی چې وایي:

«مه کوه په چا، چې وبه شي په تا»

**پاکستان ولې پر افغانستان هوایي بریدونه کوي؟**

ایا په رښتیا هم (ټي ټي پي) له افغانستان نه پر پاکستان ګذارونه کوي او که دا یوه بهانه ده؟.

ایا تر اوسه د پاکستان پر دغو هوایي بریدونو کې د (ټي ټي پي) کوم مشر وژل شوی دي؟

پر پورتینو سوالونو باندې په د مقالي په دریمه برخه کې تفصیلي بحث او څیرنه تر سره شي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ